خالق رشید
۲۰۲۵/۰۷/۰۸

کابل پوهنتون
د ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پښتو څانګه

# ګـــــــولـــــــی خــــورلـــــــی اثـــــــر

**دپښتومعاصروهنري ادبیاتو موضوع اودهغوی**

**تکاملي مرحلي**

(برخه ۲)

لیکوال

پوهیالی خالق رشید
دپوهنیاری علمي رتبې ته دلوړیدو له پاره

کابل – د ۱۳۶۴ کال دجدي ۲ نیټه


دپښتومعاصروهنری
ادبیاتوموضوع اودهغوی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**فرهنګی اغیزاوچاپیریال**

لکه چې ښکاره ده یوه ټولنه چې له یادشوي سیاسي اوپوځي ماتم سره مخا مخ وي،هلته دنوروټولنیزواړخونوهم دغه حال وي، نورمادي اومعنوي ارزښتونه هم له سختوزیاتوسره مخامخ کیږي، څکه خود افغانستان دنولسمې پیړۍ حالاتوهم ددغه هیواد په فرهنګی ارزښتونو باندې هم کلکه ناوړه اغیزه وکړه، هرڅه دخونړیوجګړوترسیوري لاندې شول،هغه فرهنګی تلاشونه او هلې ځلې چې دلته زموږ تیرونسلونوترسره کړې وې هغه ټولې دبې ارزښتۍ اوناپوهۍ قرباني شوې،دنویوهڅوله پاره لارې چا رې نه وې، دپخوانیوله پاره د زده کړواوساتنې روحیه له منځه لاړه، ترټولوبده یې لاداچې دهغوی یوه زیاته برخه د استعماري ځواکونوله خواچوراوچپاول هم شوه، ادب، فرهنګ، اوهنري ارزښتونه چې دټولنیزشعورمهمه برخه یې جوړوله داستعماری ښکیلاک اوانحصارترنفوذ لاندې شول، ادب اوفرهنګ چې یوې آزادې فضا اوځانګړې آزادۍ ته اړتیا درلوده هغه له منځه لاړه څکه خوپه داسې شرایطوکې درې حالته رامنځ ته کیږي :

لومړی داچې په داسې ناآرام بهیرکې دخپلې تنګسیا له امله یوشمیر ادیبان اوهنرمندان له دغه مسلک اوایجاد څخه لاس په سرکیږي، ماناداچې مایوسی دومره غلبه وربانديې کوي، چې دټولنیزشعورد پاللواوټولنیزې مبارزې له ډګره دتنهایي پرکونج ورمخه کوي اوپردې بسنه کوي چې » : شوله دې خوره پرده دې کوه .«

په دویم حالت کې سست عنصره اوځان ساتي هنرمندان اوادیبان دوخت ناروا استبداد ته ځانونه تسلیموي، مداحي کوي اوخپل ایجادیات داستبداد اونامنلوواکمنانان خدمت ته ګماري.چې دغه لویه غمیزه هم فرهنګي هڅه، نوښت اوحرکت له سقوط سره مخامخ کوي .

اوپه دریم حالت ایجادګران، ادیبان اوشاعران داستبداد اوستم په ځنګ کې بیاهم ولسي پاتې کیږي،د دوی ستونزه د ولس خبره کیږي اوادبیات هم خپل لوری اوپلویتوب له دغه بهیرسره په ملتیا کې موندلای شي، په ادبیاتواوهنرکې ولس توب مساله دبحث وړکیږي، دولسی توب داهمیت په اړه دیوشمیرمهمولیکوالود نظرپه اړه افغان ادب پوه لیکي :

»دولسی توب دمهموموضوعاتوپه باب د پوشکین نظرداووچې شاعربایددخلکوخدمتګاروي، ده دخپلې شاعرۍ ارزښت اومعنی په همدې کې لیده.ده دخپل وخت په بې رحمانه اوظالمانه شرایطوکې آزادي وستایله، لرمنتوب به ویل چې د شاعردهربیت آوازباید دکلیسا د زنګ په شان وي، دی بایدپه هرډول شرایطوکې شاعرپاتې شي .نیکراسوف هغه شاعران ستایل چې دخپل ولس د آزادۍ اونیکمرغۍ له پاره یې مبارزه کوله .شاعراوهنرمندپه خپلوآثاروکې خپله ټولنه - خپل خلک اویاهغه تاریخي دورې چې دی یې شاته واقع دی ترسیموي .دی غواړي دخپلوآثاروپه مرسته خپله جامعه هغې خواته سوق کړي – کومې خواته چې دی په خپله روان دی، هنرمند دخپلې ټولنې دیوه باشعوره انسان په حیث دخپلې ټولنې تاریخي تیروسترو پیښوته دخپلوآثاروله پاره مواد را اخلي اوپه دې ستروتاریخي پیښوکې دخلکو رول مطالعه اوپرهغه باندې خپل خلک تربیه کوي) «.۱ (

په هرډول لکه چې یاده شوه، په پښتوادبیاتواوادبي بهیرکې هم همدغې دریمې ډلې لیکوالواوشاعرانو له ۱۸۱۸ کال څخه بیا دافغانستان ترخپلواکۍ پورې له شرایطو سره سمه وده ورکړه اویوشمیرآثارچې ددغه وخت دڅوند اود ولسي سخت مقاومت ښکندونه یې کوله رامنځ ته کړل، دافغان – انګریزد دووجګړوټول بهیرونه،ماتې، مبارزې، بریاوې، اوخیانتونه، اوپه دغه تاوده بهیرکې دافغانستان دخلکوبرخه اخیستنه، داټول هغه مواد دي،چې په پښتوولسي ادبیاتوکې یې انعکاس وموند اوددغه هیواد دمبارزوتود ډګریې دملی خپلواکۍ داخیستلوپه خاطرتود وساته .ادبیات په هراړخیزه توګه په دغه تاریخي بهیرکې ملي غوښتنې اوداتلولیوستاینه شول،دیوشمیرملي اتلانودطرح کیدوخبره هم په همدغه وخت کې په ادبیاتوکې رامنځ ته شوه، دانګریزي استعمارپرضد پاریدنې اودهغوی وروستۍ مثبتې

---------------------------------

)۱ (نورزی ګل محمد – دادبي ژانرونواوسبکونوتاریخي مطالعه، دعلمی ترفیع اثر، ۱۳۶۲ کال) ۱۱ (مخ .

اویا منفی پایلې ددغه وخت دشعراوادب مضمون شوې.فرانسوي محقق جم ډارمستتر)۱ (په ۱۸۸۸ کال کې» د پښتونخوا شعرهاروبهار «اثر خپورکړپه دغه اثرکې یې دپښتوژبې دولسی ادبیاتوپه چوکاټ کې یوزیات شمیرپښتوملي چاربیتی،غزلې،لنډۍ اونورراغونډې کړې دي چې ټولې په رزمي، مذهبي اوعشقي برخوکې دي،دا لومړنی خارجي پوهاند دی چې په دغه برخه کې یې ډیرې هلې ځلې کړې اودغه مهم ادبي مواد یې راټول کړي اوبیا یې تشریح کړي دي چې دلته یې یوازې څوبیلګې را اخلو :

**چاربیته دجنګ دکابل**

جوړیږي که ګدام ترلی لام کمناري بره ځي
جان جان ځنګه جنګونه په کابل کیږي
جوړیږي که ګدام ترلی لام چې پسې سم شنه
اوپیښ ورته لوی غم شنه ،
لاړعلی مسجد ته میراخور ورته محکم شنه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

واړه کاريي خم شنه
څلورګوزاره يي وکړه اوس په ماته دخبيره ځي
جوړيي که ګدام ترلی لام کمناري بره ځي
دلسوورځو لاردميراخوريه يومنزل کيږي
جان جان څنګه جنګونه په کابل کيږي
دلسو ورځو لاردامیراخوريي په آس سپورکنه
اودا هنريي جوړکنه ،
دمنديې ګړندی وه، ځان داخل يي په خپل کور کنه
اوجوړيي شروشورکنه،
ودريده اميرصاحب ته تاومي له ځيګره ځي
جوړيي که ګدام ترلی لام کمناري بره ځي
پرېيني لښکردی چي په شپه او ورځ غويمنډ کيږي
جان جان څنګه جنګونه په کابل کيږي) .... هاروبهار ۵۱مخ )
له ۱۸۳۹ څخه بيا تر ۱۹۱۹ کال پوري انګريزی استعمارچي دنړی ستراستعماري ځواک انګريزانو پرنړی اوپه تيره بيا د هندپرنيمه وچه باندې برلاسی کړی و،له افغانانوسره په هراړخيزه توګه دجګړي اوسازشونوتګلاره دځان کړه، سره له دي چي مقاومتونه روان ووخوبياهم ځان ساتوواکمنانانوله انګريزانوسره دسازشونواوخپلي واکمنۍ دساتنې په خاطردخلکود روحيي مخالفي هڅي اومعاملي ترسره کړي، لوی افغانستان دهمدعومعاملوقرباني شو، يوه لويه برخه يي انګريزانودګندمک اوديورند دناملي کرښي په نامه په توطيواودسيسوسره د دغه ولس دماتي په خاطرتري بيله کړه ،خومقاومتونه پای ته ونه
--------------------------------
۱) (ډارمستټر )۱۸۴۹ – ۱۸۹۴ ( د مارچ په ۲۸ نيټه په الزاس ) دفرانسی – ختيزالمان ( پولي ته څيرمه زيږيدلی دی،د پاريس په کندرسه ليسه کي يي زده کړي بشپړي کړي، دزده کړي په ترڅ کي يي له ځانه داسي استعداد وښود چي ډيرولږروکسانودرلود، په همدغه مهال يي داسي څيړنوته ورمخه کړه چي دبل چا له توانه ډيره لړيوره وه اوداهم هغه ختيزپيژندنه او ژبپوهنه وه، په ۱۸۸۳ کال کي يي په دووټوکوکي يواثرد) آرياني مطالعو (په نامه خپورکړ، په دغه اثرکي يي د دري ژبي تاريخ، داوستا او زړي فارسي په اړه څيړني راغلي دي، دهمدغو ژبپوهنيزو څيړنوپه خاطرهند ته وليږل شو، له ۱۸۶۸ څخه تر۱۸۸۷ پوري) دافغان – انګريز تردويمي جګړي ښيرکاله وروسته (په هند اوپيښورکي و، دهزاري ضلعی) ايبټ آباد (په چاوني کي يي د پښتومطالعه پيل کړی چي د پښتوژبي منشيان يي استادان ول. مهم اثاريي دا وو: ۱ -د پښتونخوا دشعرهاروبهار ۲ - د پښتوژبه ۳ -د پښتو تاريخ اومشا ۴ -دخلکوادب د پښتو په نزد ) . وګوری دهاروبهار سريزه )
رسيدل، دانګريزانوپه مقابل وسله والي مبارزي له مرکزي آسيا بيا ترهندوستان پوري په شدت سره رواني وی، هغه آزادي غوښتونکي مبارزه چي يوه نښه يي د پښتونخوا په تاريخ کي د سيداحمد بريلوی) ۱ (له خوا پيل شوي وه او بيا يي لړی په پښتونخوا اوافغانستان کي سره وغوړيده ترهغوچي يوه مترقی شهزاده امان الله خان دانګريزانوپه وړاندي دافغانستان دخپلواکۍ جګړه اعلان کړه اوافغانستان په ۱۹۱۹ کال کي ديوه خپلواک هيواد اوخپلواک برخليک خاوندشو .
په هرډول، په دعه ياده اوږده موده کي چي انګريزي استعمارتول هندوستان لاندي کړی و،دانګريزي اړيکواغيزدافغانستان اوپښتونخوا دخلکو په اجتماعي اواقتصادي ژوند باندي وشو،پښتونخوا دنوي تمدن نښي نښاني عملاً په خپل چاپيريال کي محسوسي کړي، دنوي ښکيلاکي تمدن اقتصادي اوفرهنګی اثرد تولي آسيا پرتولنيزه اړانه باندي څرګند شو، انګريزانودخپل ښکيلاکی نفوذد پراختيا په خاطرپه تول هندوستان کي د اورګاډي پټلی وغزوله چي ورو ورو ان دافغانستان ترتش په نامه پولوپوري هم راورسيده په ۱۸۸۰ کال کي داټک داورګاډي کرښه پرانيستل شوه، دادانګريزي تمدن ترټولومهمه اوڅرګنده نښه وه چي نه يوازي په مادي لحاظ محسوسه شوه بلکه په معنوی لحاظ يي هم خپل اغيزدرلود څکه محمود جان اورګاډي ته چي ترآټک ورتيرشوی يوشعرلري چي وايي :

يوداسي عجب شی دی چي روان په زمکه برځي
نه يي خپي شته نه لاسونه وړاندي ورروسته برابرځي
يوداسي عجب شی دی چي پيداشو لوی آفت
انګريزدی جوړکړی دغه نښه دقيامت
پيچونه په کي ډيردي ولي زيات د اورقوت
دتلوپه کي صحت،
دوه وخته رفتن که يوپه شام بل په سحرځي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

يوداسي عجب شی دی چي روان په زمکه برخي
روان چي شي دځايه اټکه پوري لار
وهي په يوګړی کي ترراوګرزي دوبار
که تلوته دې حاجت وي زرمحصول ورکه په شمار
په اوسپنه رفتن که برابر په بنه هنرخي
يوداسي عجب شی دی چي روان په زمکه برخي
که وايي محمود خان چي تحقيقات کړي ما دي
خبرپي هرملا دی
هرڅوک وله ورزغلي په پيسو باندې ويريا دی
روان دی په هوا دی
----------------------------------------------

)١ (قاضی عطاالله خان په دغه اړه ليکي » : په کال ١٨٢٧ م کي سيداحمدشاه بريلوي د پيښوريه علاقه کي را ښکاره شو، هغه دپښتنواونورومسلمانانودملک نه دسيکانودايستود پاره دسکانوپرخلاف په ډيرعزم او ايمانداری سره يوعظيم الشان جهاد شروع کړو ولی افسوس چي دکوم قوم دخدمت کولواوآزادولوډپاره هغه دومره لوی اومهم په سراخيستی و،هم دهغي قوم لويولويوخاناناوملکانولکه يارمحمد خان بارکزي په خپله دهغه دکاميابی په لاره کي هزارها مشکلات پيداکړل اود هغه دتباه کولود پاره يي قسم قسم کوششونه وکړل، سيداحمد شاه داصل نه سيد په هندوستان کي د بريلي دښاراوسيدونکی واوپه بهادری علميت اوتقوی داری اوقابليت کي ثاني نه لرلو،چونکه هغه ديولوی با اثرخاندان فرد وو ...هغه زياته پاملرنه مذهبي کارونواورياضت ته واړوله، له لږمودې پس هغه دهلي ته راغلو، اوهغلته هغه دخپل علميت اوپاک ژوند په وجه دټولو مسلمانانوتوجه خانته راښکله، چونکه خلقوته صرف دقرآن شريف اود احاديثو تعليم ورکولواومسلمانان يي دباطل رواجونواود شرک دکارونومنع کول، هغه ډيرژرديو مذهبي مصلح نوم حاصل کړو «...

باری نن دی صبا دی په طرف به دخيبرخي
نه خپي شته نه لاسونه وړاندې وروسته برابرخي) هاروبهار ١٩٤مخ (
زموږمعاصرواوادبياتوته دغه رزمي روحيه په کوزه پښتونخوا اوافغانستان کی دانګريزانوپه مقابل کي له مقاومت سره په يوه وخت کي رانوتي ده، همداده چي په دغه برخه کي دولسي ادبياتوپراخه مقاومتي ونډه په هراړخيزه توګه دپاملرني اويادوني وړشوه. دغه ولسی ادبي بهيرچي زموږدادبياتوپه تاريخ کي يوه اوږده موده يعنی دافغانستان ترخپلواکی پوري نيولي ده،د نولسمي پيری له اوايلوکالو را په ديخوا دغه ولسی ادب اوولسی مقاومتي ادبی بهيرخپل ځای اوخپله هنري جوله ديوه بل بدلون پرلوروښوده، ما مخکي ياده کړه چي په سيمه اونړی کي دبيلابيلواقتصادي، فرهنګی اوتعليمي حالات بدلون زموږپرادبياتوباندي هم خرګنداغيزدرلود، اوپښتوژبه په توليزه توګه ديوه نوي بدلون سرليک اوموضوع شوه، دغه بهيرهله دخپلی پياوړتيا تګلوری ونيوچي کله اميرشيرعلي خان دويمه پلا ) ١٨٦٨ – ١٨٧٨ (واکمنی ته ورسيد، داميرشيرعلي خان عصرزموږدهيواد د سياست، اداري، ادبياتواوفرهنګ په برخه کي يوتمدني بدلون و، څکه خودغه دوره زموږدټولنيزتاريخ په پاڼوکي ديوی روښانه اوځلانده دوری په توګه ثبت شوی ده .لکه چي زموږيوليکوال په دغه اړه ليکلي :
» داميرشيرعلي خان په دغه دوره کي خورا زيات کارونه وشول، منظم پوځ يي جوړکړ، ښوونځي يي دپوځي زده کړوله پاره پرانيستل، دهيوادملي ژبي پښتوته يي زياته پاملرنه وکړه، دپوځي وسلو فابريکه يي جوړه کړه چي دغی فابريکي د راز راز وسلواوتوپونو په جوړولوباندې پيل وکړ، دبرينه چاپ خانه يي هيوادته راوړه اولومړنی اخباريي د شمس النهار (په نامه خپورکړ،چي په دې دول دپانګوالي دوله اړيکودننبنانويه رامنځ ته کيدوکي داميرشيرعلي خان اوسيدنورمحمدشاه دملي حکومت ونډه په زړه پوري اوملي وه .همداتکی دی چي داميرهيواد پالنه زموږدهيواد په پرمختيا کي په ډاګه کوي .داميرشيرعلی خان په وخت کي دجوړونکواومدنی پروګرامويه پلي کيدوسره دلومړي ځل له پاره دافغانستان په فيودالي ټولنه کي د پانګوالی نطفي دودې له پاره لاره هواره شوه)«...١ (
داميرشيرعلی خان له پاملرني سره سمه پښتوژبه د دولت رسمي چوکاټ ته په نيمه رسمي بڼه ورداخله شوه، چي لاملونه يي داميرپه دولتي اداروکي دپښتنوزياته برخه اخيستنه وه، په تيره بيا په پوځي برخه کي چي زياتره پوځيان به يي پښتانه ول،څکه خود زياتره پوځي بوليو پښتوکول هم دهمدغه اصل مخي ول لکه چي زموږ تاريخ ليکونکوهم دغه ټکي ته اشاره کړي ده :
»حکومتی لوړمنصبونه ديخوا په خلاف دلومړي خل له پاره غير خانداني عناصروته وسپارل شول چي په هغوکي نورمحمد فوشنجي) پښنګي(،حبيب الله وردګ، عصمت الله جبارخيل،ارسلاخان جبارخيل،ملاشاه محمد کتب خيل اوقاضی عبدالقادريوسفزی ډير مشهوردي .بله داچي په هغه منظم اوداِيمی اردوکي چي اميرشيرعلی خان د)٦٥تر١٧٣ (زرويه شميرتنظيم کړپښتنومخصوصاً غلزيواو وردګويه کي ستره برخه لرله،په بل عبارت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په څير و لولئ

دامیرشیرعلی خان په دویم امارت کې په اردواوحکومتي لوړې سطحه کې دري ژبي شوي سرداران دپخوا په خلاف له دولتي منصبوڅخه محروم شول اوځای یې پښتوویونکوعناصروونیو .څنګه چې پښتانه په ټول ملک کې په اکثریت کې وواوپښتوژبې په ولس کې ټینګ بیخ لاره د پښتوپه برخه کې دغه انکشاف ډیرمهم ثابت شو. داول ځل دپاره دحکومتي او نظامي چارود اسانتیا اوموثرچارچلند په غرض پښتوته ضرورت پیداشو) «...۲ )
دامیرشیرعلی خان په عصرکې پښتوروزنه پیل شوه اوپه دغه ژبه باندې یوشمیرآثارهم وژباړل شول،هم ولیکل شول او هم دچاپ ډګرته را ووتل چې زموږ زیاترولیکوالودغه آثارد پښتوژبې دلومړنیوچاپ

--------------------------------

(۱) هاشمي سعدالدین، جنبش مشروطه خواهي درافغانستان ، دعلمي ترفیع اثر، ۱۳۵۴ کال.
(۲) پښتوچاپي آثار، ۱۳۵۷ کال (۴۳) مخ

شوو آثاروپه نامه یادکړي دي :
»لومړنی کتاب په افغانستان کې چې په هغه کې د پښتوژبې عبارات او اصطلاحات کارول شوي دي هغه د (قواعد رساله ( په نامه سره یادیږي چې له انګریزي څخه په فارسي او افغاني ژبه دامیردامرسره سم ژباړل شوی لیکونکی یې محمد ابراهیم خان رجیتن دی، نوموړی رساله د دارالسلطنه کابل په مصطفاوي مطبعه کې دمیرزا محمدصادق خان په اهتمام له نقشوسره یوځای په) ۳۸۳ ( مخونکي چاپ شوی ده ) «.**پښتوچاپي آثار۲۳۱مخ** )
دپلیوپلټنو)کندکونو (دقواعدودشرحی دکتاب لیکونکی قاضي عبدالقادرچي دامیرشیرعلی خان دوخت یوعالم شخصیت دی دنوموړي کتاب چې په ۱۲۸۹هجري کال دکابل په دارالسلطنتی مطبعه کې دمحمد صادق په اهتمام طبع شوی دی داسي لیکي :
« امیرشیرعلی خان په افغانستان کې دیوه منظم وسله وال پوځ دسمبالولوسرشته وکړه چې تردې پخوا لکه بنات النعش غوندې له بې نظمی سره خپاره وو، نوموړي امیرپه ډیره لنډه موده کې پردې
بریالی شوچې نردې شپیته پلټنې (کندکونه) تشکیل کړي، ددې اردوافراد په هرډول تجهیزاتواوحربي الاتومجهزشول.
امیریوه ورځ ماته وظیفه راکړه چې دپلیوعسکرودقواعدوکتاب دانګریزي کتاب څخه چې ( The Packet book
Field exercises) نومیږي په آسانه فارسی اواحکام ( قوماندې) په پښتوترجمه کړم،ماله ۱۷ ورځو نه په لږه موده کې وکړای شول چې نوموړی کتاب په پښتوترجمه اوامیرته یې وړاندې کړم ...» ( **چاپي آثار۱۹۰مخ** )
دیورتنیویادونوپربنسټ باید ووایوچې په افغانستان کې لومړنی کتاب دامیرشیرعلی خان په زمانه کې چاپ شو،لکه چې پخواهم یادونه وشوه په ۱۹ پیړی کې دچاپ د صنعت له رامنځ ته کیدوسره سم په پښتوژبه کې هم دکتابونولړۍ پیل شوه، په هند کې دغه لړی یوڅه پخوا پیل شوي وه لکه چې په دغه اړه یوهندي لیکوال لیکی »:د پښتوژبې تاریخي څیرنې په هندوستان کې ډیرې په زړه پورې دي، په کال) ۱۸۱۱ م ( کې ) لیدن (دکلکتې د فورت ویلیم د پوهنځي استاد دانجیل ژباړه له انګریزي څخه په پښتوژبه پیل کړه،په) سیرامپور (دعیسوی مذهب اوکیت تبلیغی ډلې د )ریوویلیام (په مشرۍ نوموړی په) ۱۸۱۸ ( کال کې بشپړاودانجیل د پښتوژباړې زر نسخې یې له چاپه راوویستې ( «...۱ )
په هرډول، په دغه وخت کې یوشمیرنورمشهورآثارهم دبیلابیلو خټیزپوهانواوپښتوپوهانوله خوا لیکل شوي دي چې دلته په لنډه توګه یوه کتنه ورته کوو .

**۱ -کلید افغاني :**

دنولسمي پیړۍ له مشهوروآثاروڅخه یوهم کلید افغاني دی چې د انګریزي استعماري پالیسی د پراختیا اودپښتنوپه منځ کې دخپل نفوذ د زیاتوالي په خاطرولیکل شو،انګریزانوغوښتل چې د دوی منځ ته د دوی دژبې له لارې ورننوځي،چې دغه کارپه خپل وارهم کټې اوهم تاوانونه درلودل، کټې یې داوې چې پښتوژبې اودهغې را ژوندي کیدوته اړتیا وې رامنځ ته شوې، اوتاوانونه یې بیا هم هغه د پښتنوپه خپلوبدمرغیواوبې اتفاقیوکې ساتل ول، انګریزانویوشمیرځیرک اوچالاک انګریزي کسان دهمدغوموخوپه خاطرچې د دوی په ژبه اوکلتورباندې پوه شي دپښتوژبې اوپښتنې ټولنې،دادبیاتوانورو اړزښتونودپیژندنې، زده کړې اوڅیړنوکارته وګمارل چې په دغه ډله کې یوهم پادری هیوزو،چې په اړه یې یولیکوال لیکي :
»دمستعمره هیوادونوپه سرکاري اداروکې دانګریزي کاردارانودپاره دا ضروری ووچې دوی دې دځایی خلکوسره تماس اوراشه درشه ولري،او ورسره رسمي اوشخصي خبرې اترې اولیکنې را لیکنې وکړي ...ددغورنګوفعالیتونوپه لړکې) کلیدافغاني (یوداسې کتاب دی چې دهغه دمولف په وینا ) دپښتونیا پختوژبې د انګلیسي محصلانو دضرورت له مخه د پنجاب دحکومت ترنظارت اوحمایې لاندې په ولسې ژبه دیوه داسې کتاب په توګه تدریس اوخپورشوی دی «...
(۲)

--------------------------------

)۱ (رام راهول ، پښتوچاپي آثار ۱۳۵۷) ۱۱۲( مخ
)۲ (پادری هیوز، کلید افغاني – کابل ۱۳۵۶ ( ) مخ .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ددې له پاره چې دکليدافغاني دليکلوپراصلي موخه اومقصد پوه شو،دلته اړينه ده چې دلومړي چاپ دسريزې يوه برخه په ګډه را واخلواوپه ګډه يې سره ولولو:« د ډيرې موډې نه را په ديخوا دپښتويا پختوژبې انګليسي محصلانوديوه داسې اثرضرورت احساساوه چې په ولسي ژبه ليکل شوی وي، نودادی دهمدې مقصد د سرته رسيدو دپاره دپنجاب د حکومت ترنظارت اوحمايې لاندې دغه موجوده درسي کتاب تدوين اوخپورشو،ددې کتاب په تدوين کې زماعالم اوافغان دوست مولوي احمد ددې کتاب داولسي آثارودبرخومولف مرسته کړې ده، چې زه يې ددې مرستې له امله ډيره مننه اويادونه کوم .موږ نه وايوچې کليد افغاني د پښتوادبب دنمونويوه بشپړه مجموعه ده، )دکپتان راورټي ګلشن روه دنوميااليو ليکوالوله آثاروڅخه با ارزښته منتخبات دي (بلکې يوازې دمحصلانود استفادې دپاره يوداسې کتاب دی چې هغوی په دې قادرکړي چې په ژبه په تيره بيا په اولسي ژبه کې عملي مهارت حاصل کړي) «...۱ (

**٢ -د پښتو منتخبات:**دباندنيوپوهانوپه لړکې دا اثراودغه ليکوال دډيروباندنيوليکوالواوآثاروپه لړکې لومړنی ليکوال دی، چې په خارج کې يې پښتوخيړنې اوليکنې پيل کړې دي، د پښتوژبې نامتوليکوال محمد صديق روهي دده په اړه ديوې لنډې يادونې په ترڅ کې ليکی »:پروفيسور دورن يوله هغو لومړنيوپوهانوڅخه دی چې دپښتوپه باب يې د » کلاپروت «نظريه ومنله اوپه دې ډول يې تاييد کړه »: پښتوژبه دترکيبونو،الفاظواوګرامرله مخې دعبراني اوسامي ژبوسره هيڅ رابطه او ورته والی نه لري،دغه ژبه دآريايي ژبويوه ځانګړې ښانګه ده » د پروفيسورد ليکنې لومړنۍ برخه تردې وروستيووختو پورې تربحث لاندې وه ...پروفيسوردورن که څه هم په آلمان کې زيږيدلی دی) ۱۸۰۵ ( خوزيات عمريې په روسيه کې تيرکړی دی، نوله دې امله روسی عالم ګڼل کيږي .درون دژبې اوادبياتوپه باره کې د پراخې مطالعې خاونداوپه خپله ښانګه کې رښتينی پوهاندوو) «...٢ (

**دورن د پښتوژبې او ادبياتو دمعرفۍ په برخه کې په زړه پورې اومهمه ونډه اخيستې ده، په روسيه همدغه لومړنی پوهاند دی چې دپښتوژبې دتدريس چاره يې منلې وه، اودا وياړيې ترلاسه کړی چې اوس دی په نړيواله کچه په روسيه کې دپښتوڅيړنواومطالعاتو په برخه کې دلومړي پښتو پوهاند ځای لري** .دی د روسيې د پترزبورګ په پوهنتون کې دپښتوژبې استاد و،همدغه لامل دی چې دده نوم په نولسمه پيړۍ د پښتولومړنيواستادانواوڅيړونکوپه ډله کې هم په درنښت اوقدرسره يادېږي .دده اثر ( د دورن منتخبات (په تمامه معناله نيمګړتيا ووخالي اثرنه دی،خوله هغوسره سره بيا دخپل وخت له نامتواولومړنيوآثاروڅخه بلل کيږي، زه دلته هغه نيمګړتياوې چې زموږ نامتوپوهانوددغه اثرپه اړه په نښه کړې نه يادوم،ځکه چې زماموخه دلته يوازې ددغه اثراودهغه دليکوال په اړه لنډه يادونه وه اوبس .

**٣ -ګلشن روه :**

ددغه اثرليکوال ميجرراورټي دی، چې په (۱۸٢۵) کال په انګلستان کې زيږيدلی، په ( ۱۸۴۳) کال کې له خپلوزده کړو وروسته بريتانوي هند ته راغلی اودلته يې په انګريزي پوځ اوحکومت کې په لوړوڅوکيوباندې کارکړی دی، له ۱۸۵٢ څخه تر۱۸۵۹ کال پورې په پښتونخوا کې د انګريزانوله پاره جنګيدلی اوپه پای کې د پنجاب دکمشنر مرستيالۍ مقام ته هم رسيدلی دی .

---------------------------------------------

)۱ (پادري هيوز يادشوی اثر) ۱٢ ( مخ .
)٢ (دورن منتخبات . دکابل پوهنتون چاپ (۱۳۵۷) کال سريزه .

راورټي په پښتونخوا کې دخپلې دندې پرمهال پښتوژبه زده کړې اوبيا يې په کې په ليکنوهم پيل کړی دی، دی خوراځيرک انګريزو،په هند اوپښتونخوا کې د زړو نسخوپه راټولوکې هم ډيرهڅه کړې ده .راورټي له شکه پرته دپښتوژبې،ادبياتو،ګرامراوپښتنود تاريخ په اړه په زړه پورې علمي ليکنې کړې دی چې يوه يې هم نامتواثرګلشن روه يا دځينوليکوالودليکنوپربنسټ ګلستان روه دی چې په هغه کې يې دپښتوژبې نامتوليکوالواو شاعرانود شعرونواوليکنو يوشميربيلګې انتخاب کړې،ليکلی اومعرفي کړې دي،ګلشن روه لومړی ځل په ۱۸۶۰کال کې خپورشوی، دويم ځل په ۱۸۶۷کال کې چې په دغه ځل يې خپلې نيمګړتياوې هم په کې سمې کړې چاپ شوی دی .ګلشن روه د پښتوژبې اوادبياتوپه اړه دپاملرنې وړاثردی چې موږ ددغه اثرپه يوشميرکلاسيکوليکنواوټاکنوبرسيره کولای شود پښتومعاصرو هنري ادبياتوپراځ ډګرته هم ورننوزو .راورټي له اوږدې مودې ليکنواوهلوځلووروسته په (۱۹۰۶) کال په انګستان کې مړشوی دی .

**۴ - دپښتونخوا شعرهاروبهار ،**

دغه اثرفرانسوي پوه جم ډارمسټرپه ۱۸۸۸ کال کې چاپ کړی دی،په خپله ليکوال دغه اثرپه همدغه نامه يادکړی دی، ځکه يې په اړه ليکل شوي دي :« د پښتونخوا دشعرهاروبهاريوه مجموعه دغزلواوچاربيتو، دمثلواوقصود مصراعواوسندروچې د پيښورپه ښهراود ايبټ آبادپه چونۍ کې دفرانس د سرکارپه حکم دفرمايش سند ۱۳۰۳هجري ډارمسټرصاحب جوړه کړه «...

له پورتني سرليک څخه په ډاګه څرګنديږي چې دپښتوادب دولسي برخې ونډه دنوروډولونوپه انډول په دغه اثرکې زياته ده، همدغه لامل دی چې موږوايوزموږدخلکوله ژونداوادبي ذوقوڅخه په دغه عصرکې ولسي ادبياتوپه زړه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پوري او دقیقه انځورګري یا عکاسي کړې ده اوددغي مهمي مرحلي یوشمیرمهمي تاریخي پیښي یې راهم په دغه اثرکي لیکلي دي، داچي فرانسوي ژب پوهاند اویاداسي نوروخارجي پوهانوپښتوادبیاتواودغورا ټولوته پاملرنه کړې ده، سره له دي چي دغوټولوخپل سیاسي اواستعماري هدفونه درلودل، خودهغوپه ځنګ کی داهم دیادولو وړده چي »خدایه داسي شررا جوړکړي چي زموږ په کي خیروي .«.ځکه خواوس ددغولیکوالوهڅي زموږ په خیرشوي چي له شکه پرته ډیرې دقدروړدي .

په نولسمه پیړی په تیره دهغي په دویمه نیمایی کي دپښتوادبیاتوله یادوآثاروپرته ډیرلږځه زموږ په واک کي دي، ددغي پیړی په دویمه نیمایي کي چي کوم آثارر امنځ ته شوي په دغوکي دلویدیزو افغان پوهانو اوپښتوپوهانو آثاراولیکني زموږله پاره زموږپه ادبي څیړنوکي ډیرلوړځای لري، چي په دغوآثاروکي یوهم د پښتونخواد شعرهاروبهاردی .

په دغه اثرکي هم دپښتوکلاسیکوآثاروبیلګي راغلي او هم ددغه اثردلیکلودشپوروځویولږآثار،زما په فکرددغه اثرلویه ځانګړنه دختیزپوهانواوپښتوپوهانو ترنورولیکل شویوآثارو لکه کلیدافغاني،ګلشن روه اونورو داده چي هغوی د پښتوادب دمنځنیواوپخوانیو لیکنوځخه یولړموضوعات راټاکلي دي، خو په دغه اثرکي بیا دلیکوال دعصرادبي بهیراوآثارهم لیکل شوي اوراغلي دي چي په ځنګ کي یې دخپل عصرد تاریخي اوسیاسي حالاتوانځورګري هم کړې ده .

په هرډول، په دغه اړه ددغي لنډې پایلي په توګه دا ویلای شوچي د نولسمي پیړۍ وروستي کلونه لکه ځنګه چي دنویو بدلونواوپرمختګونوکالونه ول، ددغوکالونو پیښواو شرایطو پرپښتومعاصرروادبیاتوباندې خپله اغیزه ښندلي ده چي همدغه اغیزه ورو ورود افغاني ټولني په نوروبرخوکي هم محسوس شوه، پښتوادبي بهیرپه همدغه عصرکي له خپلي چاپیریالي تنګسیا څخه ځان په نړیوال بهیرورګډ کړ، شلمه پیړی را پیل شوه، په ټوله ایشیا کي دټولنیزبدلون په ګټه اوداستعمارپه وړاندې هڅو وده وکړه، دملی خپلواکی روحیه پیاوړې شوه، دطبقاتی توپیرنوپرضد هڅوخپله وړتیا ومونده،د نړیوالتوب تفکروده وکړه، انساني خواخوږي او همدردي رامنځ ته شوه چي دغوټولوټولنیزوځانګړنوپه خپل وارځان دادبیاتو ژړه ته هم ورساوه .ځوانولیکوالواوشاعرانو- هنرمندانواوڅیرونکوپه دغه پړاخ ډګرکي په څیرنواوایجادګریوباندې لاس پوری کړ،ادبیاتوته هم نویوهڅواونویوادبي نظریاتواوتیوریو ورمخه کړه، دادبیاتوارزښت اومنښت دنوې ادبي تیوری پرتلي، اصولواوتګلارې سره را پیل شو، چي ما هم په دغه اثرکي زیاته پاملرنه معاصرویا دشلمي پیړی پښتوادبي جریانو اوپړاوونوته کړې ده، چي دغه موده ټوله (۸۶) کالونه کیږي .په دغه اثرکي ټوله خبره بیاهم په شلمه پیړی، دهغي په سیاسي او اقتصادي اړیکواوټولنیزبدلونواوپه ځنګ کي یې دهنري ادبیاتودودې مرحلوته ونډه شوې اوراچورلیدلي ده .

هنری ادبیات اودهغوظاهري اوباطني یا (شعوري اولاشعوري (اړخونه هم البته نه په ډیره ژوره توګه تربحث لاندې نیول شوي دي، دا چي زما داهڅه په دغه برخه کي لومړنی هڅه ده، **کومي نومونې چي ما دمعاصروهنري ادبیاتو له پاره په دغه اثرکي یادې کړې دغه ټولي ډیرې نوې دي دومره اوداسي چي لاهم زموږ په لیکنوکي سمې دود شوې نه دي لکه روښانتیا، ویښتیا اواوښتیا اونورې، په دې هیله چي زموږلیکوال به ورو ورو ورسره آشناشي دم ګړی خوپوهیږم چي زموږدپښتو لیکوالوله پاره زما یادې نومونې دذهنیت ترعینکوراپه دیخواجالبې ښکاري !**

په درناوي
خالق رشید

د دویمي برخي پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ